محمد هارون خپل شعشعي


۱۱ جون ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۵۳

### ۱۱۵- شُکر( د شين په پېښ او د کاف په سکون) :

د شُکر عربي تکی په لغت کي منني، د نېکی او احسان له امله ثنا او ستاينې ته وايي۱ . د اسلامي رواياتو له مخي د نعمت شُکر، په حقيقت کي د هغه د حقيقت پېژندنه ده .

په اسلامي تصوف او عرفان کي د شُکر لوړ عرفاني او روحاني مقام، ژوري قرآني ريښي لري . د لقمان د سورې د دولسم آيت ( ۳۱ : ۱۲) په يوه برخه کي د شُکر په باب داسي راغلي دي : « . . . و من يشکر فانما يشکر لنفسه » ياني هر چا چي شُکر وکړ، هغه په ريښتيا سره د خپل ځان د ښېګني دپاره شُکر کيي(کوي) . د دې الهي ارشاد مانا داده، چي د بنده له شُکر کولو څخه الله سبحانه وتعالی ته هيڅ ګټه نه رسيږي . د شُکر په کولو سره شاکر ته ګټه رسيږي . په دونيا کي يې عزت او نعمت ډېرېږي؛ او په آخرت کي يې اجر او ثواب زياتيږي . د دې پر خلاف هغه څوک، چي د ذوالجلال د بې شماره نعمتو په وړاندي ناشُکري کيي، په حقيقت کي خپل ځان ته زيان رسيي . لوی ښتن، پر دې دونيا د هغه نعمت او عزت لږيي؛ او په آخرت کي (کي يې) هم د شُکر له لوی اجر او ثواب څخه بې برخي کيي . د لقمان د سورې د څورلسم آيت ( ۳۱ : ۱۴ ) په يوه برخه « . . . ان اشکرلی و لوالديک . . . » کي د حق تعالی پر شُکر کولو سربېره، د مور و پلار د سپېڅلي ميني او ارزښتناکو خدمتو د منني او شُکر کولو خبره هم راغلي ده . د فرقان د سورې په دوشپېتم آيت ( ۲۵ : ۶۲ )کي د اسمانو، لمر او سپوږمی، شپي او ورځي په پيداکولو سره د الله تعالی د نعمتو يادونه سوې ده . د دهر د سورې په نم/نهم سورت ( ۷۶ : ۹ ) کي د مهربان خدای له ناپايه نعمتو څخه د نېکانو د شُکر کولو فريضي ته اشاره سوې ده . د آل عمران د سورې د يوسلو پينځه څلوېښتم آيت ( ۳ : ۱۴۵) په يوه برخه کي شاکرانو ته د سمدستي اجر او

ثواب مسأله داسي تصريح سوي ده : « . . . و سنجزى الشكرين » ياني شُکر کوونکو ته به ژر اجر او ثواب ورکو .

په اسلامي تصوف او عرفان کې شُکر ته په ډېره لوړه سترګه کتل کيږي . ځينو مخکښنو عارفانو ، شُکر د خپل عرفاني سير او سلوک له مهمو مقاموڅخه ګڼلئ دئ .

زموږ عارف شاعر، علي محمد مخلص، په خپله عرفاني کلام کې د شُکر مسألي ته په خورا درنه سترګه ګوري . هغه، په يوه بله غزله کې د لوى ښښتن د بې شماره نعمتواو پېرزوينو په وړاندي، د شُکر اني عرفاني فلسفه داسي بيانيي :

نن کُفران د نعمت کُفر دئ بـاور کړه!

چي په کُفر کښي داخل نشي عقـوقه

شکرانه د نعمت داده که يـــې آروې!

چي نعمت د حق وباسي له صندوقه

هيڅ نعمت د حق پټ مه کړه له عالمه

که نعمت دي مزيد غواړي بې زهـوقه

مخلص، په يوه غزله کې دي ټکي ته پام اړيي، چي کاپيران ( کافران ) د بې نيازه ذات له ناپايه نعمتو سره سره ، له شُکر ه سترګي پټيي؛ خو مؤمن شاکران تل د قناعت او رضاً په لرلو سره، د ذوالجلال هر نعمت قدر او درناوى کيي :

هر چي شُکر په نعمت نه که حق پوش دئ

په لږ، ډېر نعمت دايم دي شاکران خوښ

په يوه غزله کې د خالق تعالى د ورکړي او پېرزويني مسأله څېړي . دى وايي، د بې نيازه مالک ورکړه او عطأ د مځکي پر مخ د بل هر چا له ورکړي څخه بېله ده . د دې ورکړي لو(لويه) ځانګړتيا داده، چي بې غرضه او بې سَوَبه ده؛ او تل تر تله پايښت مومي :

ستاعطأ په سبب نه ده بې سبب ده

بې سبب عنـايت وکړه و ګــــدا ته

فقيران، بادشاهان ستا د در ګدا دي

د بيمار په دود محتاج صحت، دوا ته

بل ځاى، د هغو ګمراهو کسانو حالت بيانيي، چي د قرآن او سُنت د احکامو پر خلاف، يوازي د روزۍ په پيداکولو پسې دوري هوري منډي وهي؛ د ځان او خالق په پېژندنه کې يې سترګي ړندې يې؛ او پر دې خبره هم د زړه له کومي باور نه لري، چي لوى او قادر پروردګار دخپلو ټولو مخلوقاتو د رزق او روزۍ ضامن دئ :

دا سرى د خداى عيال دئ بيا په رزق پسې ملال دئ

په قرآن يې باور نشته د رسول په بنه تــــــــــــحديثه

چي عيال د مخلوقات دئ له روزې يې زړه نجات دئ

دجهان رب يې ضامن دئ، دى خپل زړه نه که تدنيثه

مخلص، په خپل عرفاني او تاريخي اثر « حالنامه » کې د اسلامي تصوف او عرفان د وتلي او منلي شيخ - سلطان العارفين - ابويزيد طيفور بن عيسى بن سروشان بسطامي ( ۱۸۰ — ۲۶۱ هـ ق۲) يوه په زړه

پوري عرفاني کيسه راوړي ده، چي د شُکر عرفاني فلسفه په خورا روښانه ټکو بيانيي : « نکل سوئ دئ، چي د روژې په مبارکه مياشت کي خدمتګار و بايزيد بسطامي ته د روژه مات دپاره اوبه ور وړې . بايزيد( رح ) ورته و ويل : ودرېږه! چي اول دروژې د شُکراني دپاره دوه رکعته لمونځ ادا کړم . کله چي پر لمانځه ودريدئ؛ او دوه رکعته لمونځ يې ادا کئ. ويې ويل : دا لمونځ مي په سمه توګه ونکړ . بيا يې له سره دوه رکعته نور لمونځ ادا کړ . بيايې وويل : دا دوه رکعته مي هم لکه څنګه چي ښايي هغسي ونکړه. بيا و درېدئ؛ او دوه رکعته نور يې ادا کړه . بيا يې وويل : دا دوه رکعته مي هم په هغه ډول ادا نه کړه، چي د ده د شان وړ يي(وي) . پر لمانځه لا همداسي ولاړ ؤ، چي مؤذن د سهار د لمانځه اذان پيل کړ؛ او بايزيد( قدس سره ) هم له هغه سره د بلي روژې نيت وکئ[۳] .

دنورو مالوماتو دپاره و ګورئ : پرهېزګاري ، تسليم ، توبه ، توکل،خوف او رجأ، رضأ، رياضت، صبر، فقر، قناعت، مقام اوحال .

لمنليکونه

۱ عميد ۲ : ۱۵۶۲ ؛ Wehr 482.

۲ د علي اکبر د هخدا په « لغت نامه » کي د بايزيد بسطامي قدس سره، د مړيني نېټه اربع و ثلثين و ماتين( ۲۳۴)کښل سوې ده؛ خو د دې لوړ عرفاني شېخ په اړه ځينو نور کتابونه، د هغه د ژوند کلونه د ( ۱۸۰ – ۲۶۱ هـ ق) تر منځ ليکي .

۳ مخلص، حالنامۀ بايزيد روښان ۷۲۹ .

پاته لري